# اسلام: پــــنځه ســـتر انــــحرافونه

(محمد حسن الیاس)

ژباړه: رحمت شاه فراز

د الله په نزد دين له ابتدا نه اسلام دی. د اسلام حقيقت دا دی چې بنده د خپل پروردګار په وړاندې د تسليمي سرټيټ کړي، د هغه نازل کړی هدايت د ځان لپاره وروستی حجت ومني، او خپل فکر او عمل د اخرت د ځوابدهي له شعور سره تړلی وساتي. همدا حقيقت په انساني فطرت کې اغږل شوی، همدا د انبياوو عليهم السلام د دعوت محور پاتې شوی، د همدې تفصيل په اسماني کتابونو کې بيان شوی او د همدې د تداعي او تجديد لپاره په هر دور کې پيغمبران مبعوث شوي دي.

خو د انساني تاريخ المیه دا ده چې د خدای هدايت ته غاړه خو ږدي، مګر په خپل اصلي حيثيت يې باندې نه يې پرېږدي. او ورو ورو يې په شاوخوا کې داسې انساني مراجع ايجاد کړي چې په ابتدا کې د شرحو او تعبيرونو په نوم مخې ته راځي، بيا د استازولی دعوا کوي، او

بلاخره د ديني حجت په توګه د همدې هدايت ځايناستي ګرځي. کله تېر روايت دا مقام حاصل کړي، کله قوميت، کله مذهبي منصب، کله روحاني دعوا او کله بيا سياسي اقتدار. د انبياوو بعثت د همدې بنيادي انحراف د اصلاح لپاره شوی دی چې انسانان له دې خودساخته مراجعو څخه راوباسي او بېرته يې له دې حقيقت سره مخامخ کړي چې په دين کې پرېکنده حيثيت يوازې د خدای نازل کړي هدايت ته حاصل دی، د انسانانو په لاس پنځول شوي د استناد مرکزونه دا حيثيت نه مومي.

دا انحراف په ديني تاريخ کې يوازې تر يوه قوم يا زمانې پورې محدود نه دی پاتې شوی؛ په هر لوی مذهبي روايت کې په يوه نه يوه بڼه څرګند شوی دی. په يهودو کې شريعت له وخت سره ورو په ورو د احبارو، قومي تفاخر او مذهبي طبقو لاسونو ته ورغی. د نصاراوو په نزد د مسيح عليه السلام په دعوت د رهبانيت، کليسوي اقتدار، د مسيح عليه السلام د الوهيت او مذهبي امامت پردې وغوړېدې. د عربو مشرکينو د خدای د قربت لپاره نيکونه او پلرونه، بتان، شفاعتونه او واسطې او مقدس نسبتونه په دين بدل کړل. بڼې يې جدا وې، خو اصلي غلطي هماغه يوه وه: خدای ومنل شو، مګر په پرېکنده مقام کې د انسانانو په لاس پنځول شوي ديني اختيارات يو په بل پسې رامنځته کېدل.

د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت د همدې دیني تاریخ کې په وروستۍ مرحله کې وشو. د رسول الله په لاس دین په خپل حتمي او وروستي شکل کې انسانیت ته وسپارل شو. قرآن مجید د همېشه لپاره د دنیا په حفاظت کې راغی، سنت د امت په تواتر کې جاري شو، او د نبوت دروازه د قیامت تر ورځې وتړل شوه. له دې وروسته اصولاً باید دا خبره د همېشه لپاره فیصله شوې وای چې په دین کې اوس هېڅ شخص، کورنۍ، روحاني منصب، سیاسي اقتدار، فقهي مکتب یا مذهبي طبقې ته په خپل ذات کې د حجت حیثیت نه شي حاصلېدی. اوس به هره دعوا، هر تعبیر، هر نسبت او هر دیني اختیار د هدایت په هماغه میزان تلل کېږي چې د قرآن او سنت په شکل کې له امت سره موجود دی.

همدا وجه ده چې د ختمِ نبوت عملي پایله فقط دا نه ده چې له رسول الله وروسته به کوم شخص د نبي په نوم نه راځي، بلکې اصلي تقاضا یې دا ده چې د خدای له لوري نور د تل لپاره د دیني حجیت، خصوصي علم، منصبي اطاعت، عصمت، ماموریت او پیغمبرانه مشن دروازه تړل شوې ده. اوس نه کومه نوې وحي شته، نه معصوم لارښود، نه باطني حجت، نه مامور من الله، نه کوم نوی د رسالت منصب، او نه داسې روحاني، سیاسي، فقهي یا مذهبي مقام چې اطاعت یې په خپل ذات کې دین وګڼل شي. له رسول الله وروسته چې کوم څه دي، هغه

انساني فهم، تعبير، اجتهاد او تدبير دی، او دا ټول به په هر حال کې د قرآن او سنت تابع پاتې کېږي.

په همدې شالید کې باید د امت علمي تاریخ هم راوسپړل شي. دا تاریخ یوازې د خدماتو او علمي پانګې په عنوان نه شي مطالعه کېدلی؛ دا به هم ګورو چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وورسته د دین وروستی مرجع څوک او کومه منل شوې ده. بلاشبه دې امت د قرآن ساتنه وکړه، سنت یې نسل په نسل انتقال کړ، او د تفسیر، حدیث، فقهې، ژبې، اصولو، تزکیې، دعوت او اصلاح په ډګرونو کې یې لویه علمي پانګه وپنځوله؛ خو په همدې تاریخ کې ځینو داسې تعبیرونو هم سر راهسک کړ چې دیني استناد یې د قرآن او سنت په ځای په نویو انساني مرکزونو پورې غوټه کړ. دا اختلافات مازې فروعي یا جزوي نه وو، بلکې د اصلي سوال اړوند و: له ختمِ نبوت وروسته په دین کې وروستی حجت څوک دی؟

د فراهي مکتب په اصولي تناظر کې، د اسلامي امت د علمي تاریخ دغه پنځه لوی تعبیري انحرافات د همدې بنیادي سوال له مختلفو ځوابونو څخه پیدا شوي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته په دین کې د قطعي حجیت مقام چاته حاصل دی. تشیع دغه حجیت د امامت په منصب پورې غوټه کړ، تصوف د ولایت، کشف او الهام په دایره کې سترګې پسې وغړولې، د دین سیاسي تعبیر دغه حجیت د اسلام د غلبې په پیغمبرانه رسالت پورې اړوند کړ، وچ تقلید

فقهي مکاتب او د اکابرو روایت له عملي پلوه پرېکنده مرجع وګرځوله، او تکفیري رویو د ایمان او کفر په تعین کې د مذهبي طبقو پرېکړو ته د خدایي اختیار شکل ورکړ. د دې ټولو ظاهري بڼې مختلفې دي، خو اصلي لغزش په کې هماغه یو دی: له ختمِ نبوت وروسته، یو نه یو انساني مرجعې ته د دین په فهم، تطبیق یا پرېکړې کې داسې حیثیت ورکول شوی دی چې د قرآن او سنت د حتمي او پرېکنده حجیت په مقابل کې د یوه مستقل دیني اختیار په توګه راهسک شوی دی.

د دې پنځو انحرافاتو تفصیل دا دی:

## ۱- تشیع او امامت

په تشیع کې د امامت بنیادي مقدمه دا ده چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته د دین د سم فهم، حفاظت، قیادت او باطني توضیح لپاره یوه داسې منصبي تسلسل ته اړتیا وه چې د خدای له لوري د امت دیني مرجع ګرځول شوی وي. په دې تصور کې قرآن او سنت اصلاً د دین ماخذ نه پاتې کېږي، بلکې د خپل قطعي تعبیر، حقیقي معنا او خوندي تطبیق لپاره قرآن او سنت دواړه یوه منصوص، معصوم او واجب الاطاعت امام ته محتاج ګرځي. په دې سره، امامت مازې یو علمي فضیلت، اخلاقي لوړتیا، خانداني شرف یا سیاسي قیادت نه پاتې کېږي، بلکې یو بېل او خپلواک دیني منصب ورنه جوړېږي. امام د دین باطني مفسر، د ځانګړو علومو خاوند، د شریعت

ساتونکی، په امت باندې د خدای حجت، د حلال او حرام معتمد شارح، په اختلافاتو کې وروستۍ مرجع، او داسې منصبي رهنما منل کېږي چې له هغه پرته د دین بشپړ حفاظت، صحیح تعبیر او قطعي لارښوونه اصلاً ممکنه نه ګڼل کېږي.

د دې تعبیر پایله دا راوځي چې د دیني حجیت هغه اوصاف چې اصلاً د نبوت په مقام پورې اړوند وو، په یوه نوي نوم په امام پورې وتړل شي. له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته اصل سوال دا و چې د دین قطعي حجت چېرته دی؟ د دې ځواب باید یوازې قرآن او سنت وای؛ خو د امامت په دې تصور کې د قرآن او سنت په خوا کې یو داسې انساني مرکز هم رامنځته کېږي چې دلیل ته تابع نه وي، بلکې یوازې د خپل منصب په اساس حجت ګڼل کېږي. په دې ډول د امام یوه رایه د عام عالم، فقیه یا نېک بزرګ علمي رایه نه پاتې کېږي، بلکې د لازم الاطاعت دیني اتارټي حیثیت غوره کوي. همدا هغه مقام دی چې د ختمِ نبوت عملي مفهوم ورسره مجروح کېږي.

د دې برخلاف په اسلام کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته نه کوم معصوم مفسر پاتې دی، نه کومه لازم الاتباع کورنۍ، نه کومه منصبي دیني مرجع. د ختمِ نبوت تقاضا ده چې له نبوت نه وروسته د دیني حجیت هر انساني مرکز ختم شوی وګڼل شي. هېڅ دیني نسبت، خانداني شرف یا روحاني امتیاز په معصوم، منصوص او واجب الاطاعت اتارټي باندې بدلول له همدې اصول سره په ټکر کې

دی. له رسول الله وروسته به په دین کې یوه پرېکړه د منصب، نسبت، تقدس یا خاندان له مخې نه، بلکې د قرآن او سنت د دلیل له مخې به کېږي.

## ۲- تصوف او ولایت

تصوف د دین متوازي تعبیر دی چې له ختمِ نبوت وروسته هم د نبوت ځینې بنیادي ځانګړنې د ولایت، کشف، الهام، عامه نبوت، غیر تشریعي نبوت، کمالاتِ نبوت او محمدي حقیقت تر عنوانونو لاندې په خپل حال پرېښودل کېږي. په دې نظام کې د دین اصلي میدان د قرآن او سنت محکم هدایات، ایمان بالغیب، بندګي، تقوا، عبادت او اخلاقي تزکیه نه پاتې کېږي، بلکې باطني تجربات، روحاني مقامات، مابعدالطبیعي مشاهدات او د خدای له ذات سره د مستقیم ربط او اتصال خواهش اصلي اهداف ګرځي. همدا ده چې د شیخ، پیر، ولي، قطب، غوث، ابدال، رجال الغیب، صاحبِ کشف او صاحبِ تصرف په څېر تصورات په یوه داسې باطني نظام بدل شي چې خپل قاموس، خپله اتارټي، خپل د ثبوت نظام او خپل دیني تصور لري.

دلته اصلي انحراف دا دی چې د قرآن او سنت له علانیه حجت سره په خوا کې یو غیرعلانیه باطني حجت هم راهسک شي. مکاشفې، الهام، روحاني تصرف ته د دین د فهم، معرفت او هدایت لپاره د امتیازي وسیلې په سترګه کتل کېږي. هغه کار چې پیغمبر به د خدای د وحي په مټ ترسره کاوه، هماغه کار په دې تصور کې یو ولي د باطني

علم او روحاني اتصال له لارې سرته رسوي. او د ولایت او عامه نبوت نوم ورباندې ایښودل کېږي. په حقیقت کې دا د ختمِ نبوت منل نه دي، بلکې له یوه نوي نوم سره د نبوت د منصبي اثارو دوام دی.

د فراهي مکتب په نزد له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته نه کومه نوې وحي شته، نه غیرتشریعي نبوت، نه عامه نبوت، نه معصوم الهام، نه باطني شریعت، او نه کوم داسې روحاني منصب چې خبره یې په خپل ذات کې د دین حجت وګرځي. په قرآن کې ولایت له سره هېڅ منصب نه دی، بلکې د عربي ژبې یوه کلمه ده چې د ایمان، تقوا او بندګي د ژوند غوره کوونکو د صفت په ډول راغلې ده. د ختمِ نبوت لازمي تقاضا همدا ده چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د دین اخري حجت فقط قرآن او سنت پاتې وي؛ هېڅ ولي، شیخ، قطب، غوث، کشف، الهام، خوب یا باطني نظام ته د دیني حجیت کوم امکان، کوم ګنجایش او کوم منصب پاتې نه شي.

### ۳ – سیاسي تعبیر او د رسالت مقام

د دین د سیاسي تعبیر مقدمه دا ده چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته هم د امت اصلي دیني فریضه د سیاسي اقتدار ترلاسی، د اسلامي حکومت جوړول، د خلافت راوستل، په دنیا کې د اسلام غلبه او د نامسلمانو قومونو په سیاسي محکومي کې ساتل دي. په دې تصور کې د دین د اقامت، خلافت، د اسلامي غلبې، امر بالمعروف، نهي عن المنکر او جهاد په څېر تصورات داسې مرتب

کېږي چې ګواکې امت ته هم هماغه تاریخي مسؤلیت ور له غاړې دی چې رسولانو ته ور له غاړې و. یانې په څه دول چې رسول د خدای په مرسته، د حجت د ختمولو، الهي نصرت، په منکرینو د عذاب او د اهلِ ایمان لپاره د غلبې سمبول ګرځي، په همدې ډول امت هم باید د یوې مستقلې دیني طرحې له مخې بلاخره سیاسي فتحې، اقتدار او نړیوالې غلبې ته ورسېږي. په دې ډول د دین اصلي میدان دعوت، عبادت، اخلاق، تزکیه او د حق شاهدي نه پاتې کېږي، بلکې سیاسي اقتدار او اجتماعي غلبه یې مرکزي هدف ګرځي.

دلته اصلي انحراف دا دی چې د نبوت او رسالت دعوا خو نه کېږي، خو د هغې سیاسي او تاریخي پایلې تر یوه نوي عنوان لاندې ژوندۍ پاتې کېږي. حزب یا ګوند ته رسول نه ویل کېږي، مګر د خدای د دین د غالبولو لپاره د نماینده ځواک په سترګه ورته کتل کېږي. رهبري یې د نبوت مدعي نه وي، مګر د یوه داسې دیني رسالت د استازي حیثیت ورکول کېږي چې سیاسي اجتهاد نه، بلکې د دین لازمي او قطعي تقاضا ګڼل کېږي. سیاسي برنامه یې وحي نه وي، مګر عملاً د وحي د مطلوبو پایلو په ډول وړاندې کېږي. په دې ډول هغه کار چې رسول د خدای له لوري ورباندې مامور شوی وي، او د حجت له تمامولو وروسته یې د خدای د پرېکړې په ډول ترسره کوي، هماغه کار په دې تصور کې امت، ډله یا رهبري د خپلې سیاسي طرحې له لارې

سرته رسوي. په حقيقت کې دا د رسالت د منصبي مشن د ختمېدو منل نه دي، بلکې په يوه نوي سياسي نوم د هغه د تقاضاوو تسلسل دی.

د فراهي مکتب په نزد له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وروسته نه کوم سياسي ماموريت پاتې دی، نه د حجت د تمامولو منصبي واک، نه د خدای د عذاب د پلي کولو حق، نه د غلبې پيغمبرانه هدف، او نه کوم گوند، رهبري، خلافت، حکومت يا تحريک چې طرحه يې په خپل ذات کې د دين حجت وگرځي. امت دعوت کولی شي، اصلاح کولی شي، سياست کولی شي، حکومت کولی شي، او د ظلم په خلاف منظمې هلې ځلې کولی شي، خو د رسول په څېر د خدای د پرېکړې په پلي کولو نه شي مامور کېدلی. د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو قتال د هماغه خاص الهي سنت برخه و چې د حجت له تمامولو وروسته د خدای فيصله په تاريخ کې راڅرگندېږي. له رسول الله وروسته قتال د ظلم، تېري، مذهبي جبر او اجتماعي تاوتريخوالي په خلاف په منظمې دفاع او مزاحمت پورې تعلق مومي، نه د نړيوالې سياسي غلبې په دايمي طرحې پورې. د ختمِ نبوت لازمي تقاضا همدا ده چې له رسول وروسته د دين وروستی حجت قرآن او سنت پاتې شي؛ هېڅ سياسي گوند، حکومت، خلافت، انقلاب يا تحريک ته بايد د رسالت، منصبي ماموريت حاصل نه وي.

## ۴- د تقليد بدعت

فقه د اسلامي امت ستره علمي سرمايه ده او لوی مجتهدين د امت ستر محسنين دي. هغوی د قرآن، سنت، آثارو، ژبې، قياس، عرف، مصالحو او عملي ژوند په مسايلو ژور غور کړی دی. عام مسلمان په هره مسئله کې نېغ په نېغه اجتهاد نه شي کولی؛ اړ دی چې د علم خاوندانو ته مراجعه وکړي. د همدې لپاره له فقهې نه استفاده، د امامانو درناوی، له علماوو څخه رهنمايي او له علمي روايت سره پيوستون د ديني فهم طبيعي طريقه ده. خو وچ تقليد د دغې فطري طريقې نوم نه دی، بلکې دا هغه وخت پيدا کېږي چې د علم له خاوندانو څخه د لارښودنې په ځای کوم امام، مکتب يا روايت قرآن او سنت ته د رسېدو لازمي او تلپاتې ذريعه وگرځول شي. همدا بدعت دی، ځکه له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وروسته په دين کې يوې غيرمنصوصې (چې نص ورباندې نه وي) انساني اتارټي ته لازمه ژمنتيا په غاړه منل د دين په اصلي نظام کې زياتونه ده.

د تقليد په دې تعبير کې يوه امام يا مکتب ته د داسې تلپاتې معيار درجه ورکول کېږي چې قرآن او سنت هم د هغه له عينکو لوستل کېږي، په مخالف دليل هم د هغه سيوری غوړېږي، او د دين صحت او نه‌صحت د مسلکي نسبت له مخې فيصله کېږي. لومړی يو مکتب ټاکل کېږي، بيا د هغه په حق کې دليل لټول کېږي. لومړی د امام رايه حق گڼل کېږي، بيا هغه رايه د ايت او حديث په رڼا کې مطالعه کېږي. په دې ډول فقه د دين خدمت نه پاتې کېږي، بلکې په دين باندې د

حاکم په حیثیت کې درېږي. همدا د وچ تقلید اصلي فساد دی چې انسان نه پرېږدي د قرآن او سنت په وړاندې ازاد، سنجیده او ځواب ویونکی زده کوونکی پاتې شي، بلکې په یوه مسلکي نظام پورې یې پښې او لاسونه کلک تړل کېږي.

دلته اصلي انحراف دا دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د دین د فهم لپاره یوه نامنصوصه مسلکي ژمنتیا رامنځته کېږي. په دین کې د غیرمشروط اطاعت منصب د اصول له مخې یوازې رسول الله ته حاصل و؛ د دې لپاره نه چې رسول الله مازې عالم، فقیه یا مجتهد و، بلکې د دې لپاره چې هغه د خدای رسول، د وحي خاوند او د دین منصبي شارح و. له رسول الله وروسته دا منصب پای ته رسېدلی دی. خو د وچ تقلید په بڼه همدا حیثیت لومړی ځلورو امامانو، بیا د هغوی فقهي مکاتبو، بیا د امت اجماع او د جمهورو یا اکابرو د روایت په نوم یوه اجتماعي علمي نظام ته منتقل شو، تر دې چې له هغوی سره اختلاف ته له دین سره د اختلاف په سترګه وکتل شوو. په انساني فهم باندې د اجماع دعوا په قرآن او سنت باندې حاکمه ګرځول هم د همدې بدعت یوه فرعه ده، ځکه په اجماع کې هم د افرادو یوې ټولګې ته له عملي پلوه هغه معصومیت ورکول کېږي چې په دین کې یوازې د خدای رسول ته حاصل و. په دې ډول یو مذهبي مکتب د شریعت له نوم پرته قرآن او سنت ته د رسېدو لازمي وسیله وګرځي، او فقه سره له دې چې وحي نه وي، بیا هم د وحي د تعبیر په برخه کې د

پرېکنده حاکم حیثیت خپل کړي. پایله یې دا راوځي چې هغه علمي روایت چې د لارښوونې ذریعه و، د حق معیار وګرځي او هغه امام چې معلم و، د هغه رایه له دین او شریعت سره په یوه برابر ودرېږي.

سم دیني اصول دا دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته هېڅ امام، مکتب، فقهي نسبت، اجماعي دعوا یا مسلکي نظام د دین خپلواکه مرجع او لازم الاطاعت منصب نه شي کېدلی. امامان د امت ښوونکي وو، شارع نه وو؛ د قرآن او سنت خادمان وو، په هغو حاکمان نه وو. فقه د دیني فهم لویه ذخیره ده، خو وروستی حجت نه دی. د علم خاوندانو ته رجوع اړینه ده، خو یوازې یوه مکتب ته حتمي پابندي دین نه ده. د امام رایه محترمه کېدی شي، خو د دین وروستی حجت نه دی؛ له فقهې نه استفاده علم دی، خو فقه په قرآن او سنت حاکم ټاکل انحراف دی. د ختمِ نبوت تقاضا همدا ده چې له رسول وروسته په دین کې خبره په دلیل ومنل شي، د نسبت له مخې نه؛ د قرآن او سنت په زرکانې وارزول شي او د مسلکي پیوستون یا اجماعي دعوې له مخې یوه خبره قطعي حق ونه ګڼل شي.

### ۵- د تکفیر بدعت

په دین کې حق او باطل له یو بله بېل دي. ایمان او کفر یو شی نه دي. شرک ته توحید، الحاد ته ایمان، ګمراهي ته اجتهاد، او د دین له قطعي احکامو نه انکار ته مازې د رایې اختلاف نه شي ویل کېدی. د علماوو دنده ده چې د ایمان حدونه روښانه کړي، په غلطو تعبیراتو نقد

وکړي، شرک ته شرک، کفر ته کفر، بدعت ته بدعت او گمراهي ته گمراهي ووايي، او امت له فکري انحرافاتو آگاه کړي. خو وچ تکفير د دې علمي کار نوم نه دی، بلکې له دې دايرې نه د تجاوز يوه خطرناکه بڼه ده. دا هغه مقام دی چې د عقيدې په هکله د علمي پرېکړې کولو په ځای د کلمه ويونکو انسانانو په ايمان، باطن او اخرت قطعي پرېکړې اورول کېږي. په دين کې هېڅ انسان ته دا حق نه دی ورکول شوی چې د خدای په ځای کې ودرېږي او د بندگانو د نيتونو، ايمان او انجام فيصلې وکړي؛ همدا وجه ده چې د تکفير دغه روش علم نه، بلکې بدعت دی.

د دې بدعت اصلي فساد دا دی چې فتوا د علم له بيانولو نه وراخوا، له امت نه د اخراج، ديني پرېکون او د ايمان او کفر د وروستيو سرحدونو وسله گرځي. يوه نظريه په خپل ځان کې کفر لرلی شي، يوه خبره شرک کېدلی شي، يو تعبير گمراه کوونکی کېدلی شي، خو د يوه متعين شخص تأويل، ناپوهي، شک، فهم، علمي استطاعت، ماحول، تربيت، ذهني کيفيت او له خدای سره د هغه باطني تعلق بل انسان نه شي معلومولی. د همدې لپاره د يو چا په عقيده يا قول علمي قضاوت کول او يو کلمه‌گو د اسلام له دايرې څخه وتلی گڼل دوه جلا شيان دي: لومړی علمي تنبيه ده او دا دويم د خدای په پرېکړه کې مداخله ده. همدا وجه ده چې کوم شخص پخپله د اسلام اقرار کوي او خپل

ځان ته مسلمان وايي، هغه ته کافر یا نامسلمان ویل د تکفير يوه بڼه ده؛ دا مازې د شناخت تعين نه دی، له ملت نه اخراج دی.

دلته اصلي انحراف دا دی چې د ایمان او کفر پرېکړه اصلاً د خدای اختيار دی. د رسول په موجوديت کې به هم د باطن، نيت او انجام پرېکړه یوازې خدای کوله؛ دنيوي معامله به د انسان په اقرار ولاړه وه. له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته خو نه وحي شته، نه زړونو ته لاره، نه د انجام پوهه، نه د حجت د تمامولو منصبي واک. خو په تکفيري رويو کې انسان لومړی په یوه کلمه‌گو د کافر ټاپه وهي، بيا يې مرتد گڼي، او بيا د رسول په مقام کې درېږي او په هغه باندې د سزا د پلي کولو حق هم خپل ځان ته ورکوي. همدا هغه مقام دی چې د تکفير، ارتداد او سزا دغه نظام د ختمِ نبوت له عملي مفهوم سره په ټکر کې راځي، ځکه هغه پرېکړه چې د رسول په وړاندې له شعوري انکار او د حجت له تمامېدو وروسته د خدای په حکم پورې اړوند وه، هغې ته تر عامو مسلمانانو پورې سرايت ورکول کېږي.

سم ديني اصول دا دی چې هېڅ انسان د باطن واکمن، د ایمان پوليس، د اخرت پرېکړه کوونکی یا د خدای د عدالت استازی نه شي کېدلی. څوک چې د اسلام اقرار کوي او ځان ته مسلمان وايي، په دنيا کې به له هغه سره معامله د همدې اقرار له مخې کېږي. د هغه غلطي ته به غلطي، تعبير ته يې باطل او عقيدې ته گمراه‌کوونکې ویل کېدی شي، خو د هغه د ایمان او اخرت معامله به خدای ته پرېښودل کېږي.

د نبوت د ختمېدو تقاضا همدا ده چې له رسول وروسته د ایمان او کفر، ارتداد، ملت نه اخراج او خدایي سزاګانو پرېکړې د انسانانو واک ته ونه سپارل شي. له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د دین وروستی حجت قرآن او سنت دي؛ تکفیري فتواوې، واعظانه پرېکړې او د مذهبي حزبونو محکمې نه دي.

دا د امت د تاریخ پنځه ستر انحرافونه دي. په ظاهر کې بېل بېل، خو په خپل حقیقت کې ټول یې د ختمِ نبوت له عملي تقاضاوو څخه د انحراف شکلونه دي. دین د خدای هدایت دی، د انسانانو په لاس پنځول شوي د استناد مرکزونه نه دي. د نبوت د ختمېدو پیغام همدا دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته هره دعوا، هر نسبت، هر تعبیر او هر اختیار به د قرآن او سنت په تله کې تلل کېږي؛ هېڅ منصب، مکتب، کشف، سیاست یا فتوا په خپل ذات کې اخري حق او قطعي حجت نه شي ګرځول کېدی.

**پای**